# د ۸ صبح

د پرون روایت د نن هینداره د سبا زیری

## پښتو مجله

لومړی کال ◆ ۱۵ مه گڼه ◆ شنبې، د ۱۳۹۹ د لیندۍ لومړۍ نېټه ◆ بیه ۲۰ افغانۍ


# عمران‌خان د موقت حکومت له دیکتې، ارگ کې له ولسمشر غني سره دوه په دوه ناستې پورې؛ گورو به چې دوحه کې د مذاکراتو را روان انکشاف، څه په ډاگه کوي!









عکسونه له ټولنیزو شبکو کاپي شوي دي.

۸ صبح
د پرون روایت | دنن هینداره | د سبا زیری




# سرکرښې

## افغانستان، لښکر لاره اوګیوتین

شوروي د تاریخ د حافظې یوه برخه شو، امریکا د دوحې تړون له پزې سره وتلو ته بهانې لټوي؛ خو د چا خبره-اوس د خبرې سر له پاکستان سره دی؛ رښتیاد افغانستان او پاکستان ترمنځ څه روان دي؟

عمران خان، لومړی پلا، کابل ته راغی، چې د دوو هېوادونو ترمنځ، له زخمونو او دردونو ډکو اړیکو له رغولو سره،په یو ډول نه یو ډول، له افغانستانه منځنۍ اسیا او ور وړاندې، د ګټو وټو، اسانې او وړیا لارې، اجاره واخلي!! افغانستان د مادي او انساني شتمنۍ او موقعیت هغه محور دی، چې پر امریکې او روس سربېره، د اسیا نویو طاقتونو، چین او هند پانګونو او اوږدمهاله اقتصادي پلانونو لپاره طلایي فرصت بلل کېږي! خو پاکستان دلته په څنګ کې پروت دی؛ اتوم هم لري او ژور فکري-اعتقادي نفوذ یې جلا امتیاز دی! ځکه نو کارپوهان په دې باور دي چې افغانستان ته د سولې او امن کمربند دوحه کې نه؛ بلکې د جي ایچ کیو لخوا ورتړل کېدلای شي!!!

ډېری افغانان دې پایلې ته رسېدلي، چې د افغانستان د شخړې او ناورین سرچینه، د پاکستان له ناوېلو ستراتیژیکو اهدافو څخه خړوبېږي. پر نورو سربېره، (PTM) یا د پښتنو د حقونو تحفظ غورځنګ هم دا آواز پورته کړی، چې (پاک فوج)، د افغانستان او بیا په تېره پښتونو د ځپلو، وژلو، او له انساني حقونو محرومولو سره، غواړي هغوي د لوی هند د نړولو، د فکري ځانمرګو په توګه د خپلو هوسونو د سوند توکو په توګه وکاروي! په مېرامشاه کې، ددغه غورځنګ وروستۍ لویه غونډه چې وبل کېږي، ۳۰۰۰۰تنو په کې ګډون درلود، یو ځل په فکري او رواني طلسمونو تړل شویو پښتنو، د لوی فکري- ارماني اوښتون ننداره وړاندې کړه. اوس چې د افغان خاورې پر دغې شخړې او جګړې، چې وېل کېږي، پلانونه او هدایت یې، د پاکستان پوځ لخوا روان دي، نیمه پېړۍ اوښتې- تاریخي تجربو او د افغانانو په تېره بیا پښتونو تاریخي اوښتون ته په کتو سره، ښایي د افغانانو او په تېره بیا کرښې ها غاړه پښتنو، د ویښتابه لویه څپه راپورته او دا سېلاب د پنجاب ستراتیژیک عمق لپاره د مومنخان اسطوره یې توره شي: څوک وېلای شي، ښایي د عمران خان د وروستي سفر، ناڅرګند لامل، سیمه کې د نوي توپان راپورته کېدلو مخنیوي، او منځنۍ اسیا کې لویو سوداګریو موخو ترلاسه کولو لپاره، یوه دیپلماتیکه هڅه وي!

که ژوند ؤ، د تاریخ دا ننداره به هم وینو!

# لیکلړ

عمران خان: په افغانستان کې د اوربند د ټینګښت لپاره هڅې کوو ........ ۱
په ټپه ولاړ حالت ماتولو لپاره «هڅې»؛ ... ........ ۲
ترکیې ته د خلیلزاد سفر: د افغانستان د جګړې.. ........ ٤
د ناټو عمومي منشي: د امریکایي پوځیانو په کموالي سره سره ... ........ ٥
طالبانو۵۰ سلنه تاوتریخوالی زیاتوالی!... ........ ٦
دولت او طالبانو ته د نړیوالې ټولنې لس شرطونه... ........ ۸
د ملګروملتونو سازمان له افغانستان سره د نړیوالو مرستو د دوام غوښتنه وکړه ۹
سره سندره ........ ۱۰
د غني خان طنزي شعرونه ........ ۱۱
د کابل د ژمي لومړنی باران؛ ښاریان کنبتیو ته اړ شول ........ ۱۲
نــــه تـرامپ او نـــه بایـدن؛ یوازې ملي عدالت ........ ۱٤
له اداري فساد سره د مبارزې کمېسیون جوړېدل؛... ........ ۱٦
ام البلاد لوبډلې د افغانستان د والیبال غوره لیګ اتلولي وګټله ........ ۱۸
په میرانشاه کې د پښتون ژغورنې غورځنګ ستره غونډه ........ ۲۰

د ۸ صبح له نشراتو څخه:
د کتنپلاوي تر نظر لاندې:
د کتنپلاوي مشر: ا.و.سمندر
سکرتر: محمد ظریف صمیم
مرستیال: محمد عزیز پردېس
پته: قلعه فتح الله، کابل، افغانستان

0700175510 - 0788788799
www.8am.af
shaparsepehr@gmail.com
Taimani/Qala fatullah, Kabul, Afghanistan
www.facebook.com/8am.af
www.instagram.com/8am.af

## عمران خان:

# په افغانستان کې د اوربند د ټینګښت لپاره هڅې کوو



◆ **د ۸صبح پښتو مجله**

◆ **م. ظریف صمیم**

د پاکستان لومړي وزیر عمران خان د پنجشنبې په ورځ کابل ته له رارسېدو او له ولسمشر غني سره له کتنې وروسته په ګډه خبري ناسته کې وویل: په دې حساس وخت کې يې کابل ته د سفر موخه باور جوړونه او ددې ډاډ ورکول دي چې پاکستان به د افغان سولې په بهیر کې تر خپله وسه همکاري کوي.

په دغه خبري ناسته کې ولسمشر محمد اشرف غني وویل چې په افغانستان کې نور تاوتریخوالی د زغم وړ نه دی او تلپاتې سولې ته د رسېدو لپاره د پاکستان همکاري اړینه ده. ښاغلي غني زیاته کړه: «تاوتریخوالی نور د منلو وړ نه دی موږ د داسې تلپاتې سولېغوښتونکي یوو چې د اساسي قانون له مخې وي، افغانان د اوربند غوښتونکي دي، موږ د داسې سیاست منونکي یو چې له مخې يې جوړجاړی وشي ، د تاسو دا سفر به د راتلونکي لپاره خورا مهم وي.»

افغان ولسمشر محمد اشرف غني په اوسني وخت کې کابل ته د عمران خان سفر مهم وباله.

له بلې خوا د پاکستان لومړي وزیر په دغه خبري ناسته کې وویل: «افغانستان ته زما د راتګ موخه دا ده چې په افغانستان کې تاوتریخوالی زیات شوی او د پاکستان خلک يې هم په اړه اندېښمن دي، موږ هم سوله غواړو، څلور لسیزې کېږي چې تاسو له تاوتریخوالي کړېږئ، پاکستان به ترخپلې وسې د تاوتریخوالي د پای ته رسولو لپاره هڅې وکړي.»

عمران خان ډاډ ورکړ چې پاکستان د سولې خبرو لپاره د آسانتیاوو د برابرولو په موخه خپل اغېزناک رول لوبوي او طالبان له افغان حکومت سره خبرو ته هڅوي.

عمران خان زیاته کړه چې دوی به له افغانستان سره خپلې هر اړخیزې اړیکې لا پیاوړې کړي.

نومړي کابل ته د سوداګرۍ او پانګونې په چارو کې د ده د سلاکار عبدالرازق داوود په مشرۍ د پاکستاني پلاوي راتګ ته په اشاري وویل چې په دې موده کې د ترانزیتي اړیکو ترڅنګ پر ګڼو نورو اقتصادي مسلو هم ګټور بحثونه شوي دي.

د پانګونې په چارو کې د عمران خان د سلاکار عبدالرازق په مشرۍ پلاوی درې ورځې وړاندې کابل ته راغلی و.

د پاکستان لومړي وزیر عمران خان په داسې حال کې په لومړي ځل کابل ته سفر راغی چې له تېرو کابو دوو میاشتو راهیسې په دوحه کې د افغان حکومت او طالبانو د مرکچي پلاویو ترمنځ خبري رواني دي.

پاکستان تردې وړاندې هم په ځلونو د افغان سولې په بهیر کې د مرستې ژمنې کړې، خو داسې نیوکې کېږي چې نومړي هېواد تراوسه خپلې ژمنې نه دي عملي کړې. اوس وبه لیدل شي چې افغانستان ته د پاکستان د لومړي وزیر عمران خان سفر به تر کومه بریده د افغان سولې له بهیر سره مرسته وکړي.

# په ټپه ولاړ حالت ماتولو لپاره «هڅې»؛
## د سولې د مذاکراتو لاره ورکه ده!




◆ لیکنه: محمد حسین نیک خواه
◆ ژباړه: محمد عزیز پردېس

په قطر کې د حکومت او طالبانو د مرکچي پلاویو ترمنځ د سولې له خبرو اترو د دوو میاشتو په تېرېدو سره، دا خبرې تر دې دمه یادولو وړ پرمختګ نلري او له بندون سره مخ شوې دي. همدارنګه په امریکا کې د دموکرات ګوند په بري سره د افغانستان د دولتي چارواکو د ځرګندونو له مخې، لېدل کېږي چې د مذاکراتو لاره روښانه نه ده چې په کوم لوري به ځي.

له بل پلوه د ملي روغې جوړې عالي شورا د مذاکراتو د په ټپه ولاړ حالات ماتولو لپاره د هڅو د پیلېدو خبر ورکوي، خو تر دې دمه لا موضوع دومره روښانه نه ده. ددې شورا د چارواکو په وینا، د طالبانو له مرکچي پلاوي سره خبرې اترې نه دي درېدلې او د دواړو ډلو ترمنځ اوس هم اړیکې شته دي.

دغه شورا وایي چې تازه په تازه د دولت مرکچي پلاوي د رئیس لخوا یوه طرحه له دې پړاوه د تېرېدو او اساسي بحث ته د رسېدو لپاره، د طالبانو استازو ته وړاندې شوې ده. پر دې سربېره د حکومتي چارواکو د لیدلوري پر خلاف د سیاسي چارو ځینې کارپوهان په دې باور دي چې د تاوتریخوالي له زیاتېدو د طالبانو موخه داده چې خلک دې ته اړ کړي چې ددې ډلې لخوا د تاوتریخوالي د درېدو او یا هم کمښت لپاره موقت حکومت ته غاړه کښېږدي. دا په داسې حال کې ده چې له دې وړاندې د حکومت

ځینو مشرانو ویلي ؤ چې د دوحې هوکړه لیک افغان حکومت ته د منلو وړ نه دی او بیا کتنې ته اړتیا لري.

له دې سره همهاله په دوحه کې د سولې د مذاکراتو د بندون په دوام، د ملي روغې جوړې عالي شورا د بندون د ماتولو خبره کوي.

د ملي روغې جوړې عالي شورا رئیس، عبدالله عبدالله د لړم په درویشتمه، د جمعې په ورځ، د هرات په امنیتي کنفرانس کې وویل چې د افغانستان د سولې په تړاو د «سیمه ییز پوهاوي» د رامنځته کېدو لپاره هڅې هیله بښونکې دي.

د حکومت دغه لوړپوړی چارواکی د سولې د بهیر په اړه دا مني چې د دوحې د سولې خبرو تر دې دمه دومره پرمختګ نه دی لرلای او د سولې له خبراترو سره همهاله د تاوتریخوالي دوام، د خلکو لپاره پوښتنې پیدا کړې دي، خو د نوموړي په وینا، اوس هم د سولې خبرو دوام د افغانستان په ګټه دی او د دولت «مرکچي پلاوی» دې له زغمه کار واخلي.

د ملي روغې جوړې عالي شورا رئیس باور لري چې مذاکرات په دواړو لوړیو پوړې تړاو لري او نړیواله ټولنه هم دې وضعیت ته پام کوي. په ورته وخت کې نوموړی وایي چې طالبان ددې مذاکراتو د مقابل لوري په توګه، باید دې باور ته ورسېږي چې یوازې د خبرو او مذاکرې له لارې یوې حل لارې ته رسېدلای شي.

د ملي روغې جوړې عالي شورا رئیس ټینګار لري چې له

افغانستانه بهر مسائل، په ځانگړي ډول «د امریکا ولسمشریزې ټاکنې»، د افغانستان د سولې پر بهیر اغېز لري او د هغه په اند که څه هم د سولې له بهیره ملاتړ دوام مومي او د امریکا سیاست به دوام ولري، خو ښايي چې له ځان سره د سولې د بهیر ټکنوالی ولري!

دا په داسې حال کې ده، چې مخکې له دې د افغان حکومت ځینو لوړپوړو چارواکو د امریکا – طالبانو د سولې پر هوکړې د بیاکتنې غوښتنه کړې وه او د ولسمشر لومړي مرستیال، امرالله صالح حتی ویلي ؤ چې دا هوکړه لیک په رسمیت نه پېژني! خو ښاغلی عبدالله وايي چې ددې هوکړه لیک د بیاکتنې لپاره، د دولت په کچه کوم بحث نه دی شوی او ښايي په دې برخه کې کې نظرونه موجود وي!

د ملي روغې جوړې عالي شورا رئیس وايي چې که څه هم د امریکا او طالبانو د سولې هوکړه لیک، د سولې د خبرو اترو د پیل لپاره لاره هواره کړه، خو د نوموړي په نظر د هېواد د ټولو مسائلو لپاره دا یو جامع هوکړه لیک نه دی. ښاغلي عبدالله په دې ناسته کې وویل: «دا یوه اړتیا وه چې داسې هوکړه لیک لاسلیک شي!»، نوموړي د امریکا د ولسمشر په توگه د جوبایډن د ټاکل کېدو په غبرگون کې وویل: «هر گام چې افغانانو او د مذاکراتو لوري یې پورته کوي، د سولې تضمینونکي او اغېزلرونکي دي.» عبدالله عبدالله په خپلو خبرو کې وویل چې په جگړه کې «گټونکی» او «بایلونکی» نشته او د سولې ټول گډونه هوکړه لیک په هېواد کې ځلوېښت کلنې جگړې ته د پای ټکی اېښودلی شي.

د ملي روغې جوړې عالي شورا د رئیس په اند، که څه هم په دوحه کې د حکومت د مرکچي پلاوي له حضور سره سره د تاوتریخوالي د لوړېدو په اړه خلک اندېښمن دي، خو باید له رامنځته شوي فرصته په هېواد کې د تلپاتې سولې د ټینگښت لپاره گټه پورته شي، ځکه د نوموړي په وینا د خبرو اترو دوام د هېواد په گټه دی.

له پلوه د امریکا د ملي امنیت مخکینی سلاکار، مک مستر په یوه ویډیويي پیغام کې چې د هرات امنیتي کنفرانس په حضوري ناسته کې خپور شو، د افغانستان په تړاو یې د دونالډ ترمپ سیاست د امریکا مخکیني ولسمشر باراک اوباما د سیاست په پرتله، ناکام وباله. نوموړي وویل چې دغه غلط سیاست، د طالبانو د سیاسي او پوځي غښتلتیا او د افغان حکومت د کمزورۍ لامل دی. مک مستر څه موده وړاندې د افغانستان په اړه د ترمپ دغه سیاست «خاینانه» بللی ؤ او ویلي یې ؤ چې له طالبانو سره د امریکا دولت معامله، په ۱۹۳۸ کې د مونیخ هوکړه لیک کې له اډولف هټلر سره د اروپا معاملې ته ورته ده.

له بل پلوه، د افغانستان ځینې سیاست پوهان په دې باور دي چې طالبان د تاوتریخوالي په لوړوالي سره غواړي خلک دې ته اړ کړي چې په هر قیمت کېږي، ددې لپاره چې طالبان د «د تاوتریخوالي کمښت او یا د اوربند رامنځته کېدو» ته غاړه کېږدي باید دوی یې بیه یې ورکړي.

ددوی په وینا د طالبانو له لوري د تاوتریخوالي کمښت بیه ښايي «موقت حکومت یا عبوري اداره» وي چې د امریکا نوی حکومت یې تضمین وکړي! د ملي امنیت پخوانی رئیس، رحمت الله نبیل د هېواد په راتلونکې کې د «درې خطرناکو سناریوگانو» د احتمال په اړه خبرداری ورکوي. د ځینو سیاسي شخصیتونو په ملاتړ، د «موقت حکومت یا عبوري اداري» رامنځته کېدل، د افغانستان امنیتي ځواکونو څخه د امریکا متحده ایالاتو د ملاتړ پرې کېدل او د پاکستان له خاورې د ترهگرو ډلو ځپل او یا هم د کورنۍ جگړې رامنځته کېدل او د اوسني جمهوري نظام له منځه تلل، هغه سناریوگانې دي چې نوموړی یې، د احتمال په اړه خبرداری ورکوي.

ښاغلي نبیل په خپلو خبرو کې وویل چې د افغانستان له امنیتي او دفاعي ځواکونو د امریکا د ملاتړ په پرې کېدو سره به د «د شوروي ځواکونو د وتلو ناورین» یو ځل بیا تکرار شي او د افغانستان اوسنی وضعیت د هغه وخت په پرتله چې د شوروي ځواکونو هېواد پرېښی ؤ، ډېر نازک دی.

نوموړي وايي چې د اوسني حکومت ځیني سیاسي څېرې ناراضه دي! په یو ډول غواړي له نظامه ملاتړ پرېږدي او د صحنې ترشا له موقت حکومت یا عبوري اداري څخه ملاتړ کوي!!

د ښاغلي نبیل په وینا هغه اشخاص او سیاسي څېرې چې له «موقت حکومت او عبوري اداري» څخه ملاتړ کوي، د ناانډول او بد برخلیک په اړه یې معلومات نلري او ښايي موقت حکومت د جمهوري نظام د له منځه تلو او د داسې نظام د رامنځته کېدو سبب شي چې د «جمهوریت او امارت» ترمنځ وي.

د نوموړي په وینا، طالبان د امریکا د ملاتړ د جلب لپاره او دا چې وښيي د امریکا – طالبانو د سولې هوکړه لیک ته ژمن دي، له بهرنیو ځواکونو سره یې د القاعدې شبکې اړوند قوتونو د ځپلو لپاره استخباراتي همکاري پیل کړې ده!

رحمت الله نبیل باور لري چې که د جمهوریت اړخ سیاسي مشران ونشي کولای «لومړی او دویمه» احتمالي سناریو په ښه ډول مدیریت کړي، نو د «دریېمې» سناریو احتمال موجود دی او هغه مهال ښايي چې افغانستان له یوې پراخې کورنۍ جگړې سره مخ شي! خو دې ټولو موضوعاتو ته په کتو د ملي روغې جوړې عالي شورا رئیس، عبدالله عبدالله د افغانانو غوښتنه د جگړې پای ته رسېدل او د سولې په راتلو کې گڼي او د گټو گواښونو په شتون سره چې په هېواد کې د سولې بهیر مخه ډب کوي، دې ټولو سره سره اوس هم د سولې مذاکراتو مثبتو پایلو ته هیله من دی.

د ملي روغې جوړې عالي شورا په داسې حال کې د سولې د اوسني بندون د لرې کولو لپاره د هڅو د پیل خبر ورکوي چې په دوحه کې دولت او طالبانو پلاوي ډېر وخت له یو او بل سره نه دي لیدلي. دواړو لوریو د خبرو اترو په لړ کې د مذاکراتو د مخکې تگ د عنوان په توگه، د دوحې د سولې هوکړه لیک د انتخاب په اړه، هوکړې ته نه دي رسېدلي او دا موضوع او د امریکا ولسمشریزې ټاکنې ددې مذاکراتو د سوروالي سبب شوې.

ځینو حکومتي چارواکو او د مشرانو جرگې غړو، په وروستیو ورځو کې د دوحې د سولې هوکړه لیک د بیاکتنې غوښتنه کړې ده، په ورته وخت کې د جوبایډن له بریالي کېدو وروسته، طالبانو جوته کړې چې د اوسني اړودوړ د سوله ییز حل لپاره، د دوحې د سولې هوکړه لیک باید عملي شي.

## ترکیې ته د خلیلزاد سفر:

# د افغانستان د جګـړې لـوري دې د تاوتـریخوالي د پای ته رسولو لاره پیدا کړي



◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ م. ظریف صمیم

د افغانستان د سولې په چارو کې د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد، ترکیې ته په سفر کې ددغه هېواد له چارواکو سره د سولې بهیر په اړه خبرې وکړې.

خلیلزاد ترکیې ته په سفر کې، د نوموړي هېواد د بهرنیو چارو له وزیر، مولود چاوش اوغلو، د بهرنیو چارو وزارت له مرستیال، سادات اونال، د ولسمشر له ځانګړي سلاکار، ابراهیم کالین او نورو ترکي چارواکو سره لیدنې کتنې او خبرې وکړې.

په ترکیه کې د امریکا سفارت اعلان وکړ چې خلیلزاد او ترکي چارواکو په افغانستان کې د تاوتریخوالي د دوام په اړه اندېښنه څرګنده کړې ده!

د امریکا سفارت ویلي: «دواړو لوریو ټینګار کړی چې نړیواله ټولنه ګډه اجماع لري چې په افغانستان کې د جګړې لوري باید د تاوتریخوالي د دایمي پای ته رسولو لپاره لاره پیدا کړي او دا چاره د تاوتریخوالي په چټک کمولو سره شوني ده.»

خلیلزاد له ترکي چارواکو سره په کتنه کې، د مذاکراتو د اوسني وضعیت او په دې بهیر کې، د پرمختګونو په اړه مالومات ورکړي دي. د امریکا د سفارت د اعلان له مخې: «خلیلزاد له ترکي چارواکو سره په کتنه کې د نړیوالې ټولنې په کچه د همغږۍ لپاره ددغه هېواد د رول او د افغانستان د جګړې سیاسي حل ته د رسېدو لپاره د مذاکراتو د دواړو لوریو د هڅونې په اړه هم خبرې اترې کړې دي.

په دغو کتنو کې، د سیمې لپاره د پام وړ اقتصادي فرصتونو په اړه، چې په افغانستان کې له سیاسي حل لارې وروسته د پلي کېدو وړ دي، په تېره بیا هغه پروژې چې افغانستان له منځنۍ او سویلي آسیا سره نښلوي، هم خبرې وشوې.

خلیلزاد د خپلو هڅو په لړ کې،په داسې حال کې ترکیې ته سفر کوي چې په دوحه کې بین الافغاني مذاکرات له بندون سره مخامخ شوي دي.




# د ناټو عمومي منشي: د امریکایي پوځیانو په کموالي سره سره موږ په افغانستان کې خپل ماموریت ته دوام ورکوو!

◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ ژباړه: محمد عزیز پردېس

د امریکا د ولسمشر (دونالد ترمپ) په حکم، له افغانستانه د امریکایي پوځیانو د ژر وتلو د احتمال په اړه د راپورونه له خپرېدو وروسته، د ناټو عمومي منشي اعلان وکړ چې هر ډول ژر او په بېړې سره وتل به دروند زیان له ځان سره ولري.

د شمالي اتلانتیک تړون یا ناټو سازمان عمومي منشي، ینس ستولتنبرگ، د لږم په اوه ویشتمه، د یوې بیانیې په خپرولو سره ویلي دي چې آن د امریکایي پوځیانو د شمېر په کمښت سره به هم ناټو، د افغان امنیتي ځواکونو ښوونې، مشورې او مرستې په برخو کې خپل ماموریت ته دوام ورکړي.

د نوموړي په وینا، ناټو ژمنه ده چې د افغان امنیتي ځواکونو بودیجه به تر ۲۰۲۴ زېږدیز کال پورې تمویل کړي.

رسنیو راپورونه ورکړي چې تمه ده د امریکایي ځواکونو شمېر له ۴۵۰۰ څخه ۲۵۰۰ ته راکم کړي. یاده دې وي، چې د امریکایي ځواکونو د وتلو حکم د امریکا د ولسمشر- سره له دې چې ټاکنې یې بایللي، لخوا صادر شو.

په همداسې حال کې د ناټو عمومي سرمنشي ویلي دي: «موږ اوسمهال له یو ستونزمن تصمیم سره مخ یؤ، تقریبا ۲۰ کاله کېږي چې په افغانستان کې یؤ او د ناټو هېڅ غړی نغواړي له لازم وخته زیات پاتې شي، خو په ورته وخت کې په چټکۍ او بېړې سره وتل به هم درنه بیه ولري.»

د ینس ستولتنبرگ په باور، اوس هم شونې ده چې افغانستان د نړیوالو ترهگرو لپاره په امن ځای بدل شي او ددې هېواد له خاورې د ناټو غړو هېوادونو پر وړاندې گټه واخیستل شي.

نوموړي ټینگار کړی چې داعش به هڅه وکړي چې په سوریه او عراق کې خپل له لاسه تللی خلافت، په افغانستان کې راژوندی کړي.

د ناټو سرمنشي ټینگار کړی چې د ناټو ټول غړي یوځای افغانستان ته تللي او یوځای به ترې راوځي.

ناټو په افغانستان کې ۱۲ زره پوځیان لري. ددغو ځواکونو ډېره برخه د امریکایان دي.

له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو پرېکړې چې د دوحې هوکړه لیک یوه برخه ده، په کابل کې هم غبرگونونه له ځان سره لرلي دي.

د دفاع وزارت سنبالچاري وزیر، اسدالله خالد او د ولسمشرویاند صدیق صدیقي له افغانستانه د امریکایي ځواکونو په بېړه وتلو ته په اشارې سره، د افغان امنیتي ځواکونو د غښتلتیا یادونه کړې ده. خالد ویلي چې د امریکایي ځواکونو د کموالي او ډېروالي احتمال موجود دی، خو په بشپړه توگه وتل به ترسره نشي. د ولسمشر ویاند هم ویلي چې له افغانستان سره به د متحدینو همکاري دوام ولري.

# طالبانو ۵۰ سلنه تاوتریخوالی زیاتوالی!

## سیگار: د طالبانو له خوا ۵۰ سلنه د تاوتریخوالي لوړوالي د دوحې هوکړه لیک له گواښ سره مخ کړی!



◆ راپور: حسیب بهش
◆ ژباړه: محمد عزیز پردېس

د افغانستان د بیارغوني لپاره د امریکا متحده ایالاتو ځانگړې ځارونکي بنسټ (سیگار) د امریکا کانگرس ته په راپور کې ویلي دي چې د ۲۰۲۰ کال د اپرېل، مې او جون میاشتو په پرتله د جولای، اگست او سپتمبر په میاشتو کې د طالبانو ډلې لخوا تاوتریخوالی ۵۰ سلنه لوړ شوی دی.

د سیگار په وینا، د امریکا لوړپوړو چارواکو څو څو ځله ټینگار کړی چې د طالبانو بریدونه له «فصلي مقیاس» څخه پورته او «ډېر زیاد» شوي دي. یاد بنسټ همدارنگه په خپل راپور کې ویلي دي چې د امنیتي ځواکونو زمکنیو عملیاتو کچه په دې درې میاشتو کې، د تېر یوه کال په پرتله ترټولو لوړې کچې ته رسېدلې ده. دا په داسې حال کې ده چې دغه راپور د سپتمبر په میاشت کې برابر شوی او د روان کال د اکتوبر میاشتې تاوتریخوالي پکې نه دي راغلي.

حکومتي چارواکي هم ټینگار کوي چې د بین الافغاني مذاکراتو له پیل راهیسې، د طالبانو ډلې تاوتریخوالی په لوړه کچه ډېر شوی او د نښتو کچه شاوخوا له ۱۰ ولایتونو

ځخه ۲۰ نه تر ۲۹ ولایتونو ته لوړه شوې ده، خو طالبان په تاوتریخوالي کې لوړوالی ردوي او وايي چې ددې ډلې تحرکات، دمګړی د غبرګونونو په حد کې دي.
د امریکا کانګرس ته سیګار په خپل فصلي راپور کې، په هېواد کې د طالبانو د تاوتریخوالي له ډېرېدو خبر ورکوي.
**دغه بنسټ ویلي چې په جولای، اګست او سپتمبر میاشتو کې د طالبانو ډلې تاوتریخوالی د دوحې هوکړه لیک په خلاف، ۵۰ سلنه لوړ شوی دی.**
ددې بنسټ په وینا، د سپتمبر میاشتې په دوو وروستیو اونیو کې د طالبانو په بریدونو کې زیاتوالی راغلی او د امنیتي ځواکونو او ملکي خلکو د مرګ ژوبلې لامل شوی دی. د هغو شمېرو په اساس چې سیګار خپرې کړې، لږترلږه ۸۷۶ ملکي وګړي په دې درې میاشتو کې وژل شوي او ۱٦۸۵ تنه نور ټپیان شوي دي. په همدې ترتیب، یاد بنسټ زیاتوي چې طالبانو د روان کال د دوهمو دریمو میاشتو په پرتله راوروسته مياشتو کې خپل بریدونه ۴۲ سلنه ډېر کړي دي. دغه شمېر په واقعیت کې د ۲۰۱۹ کال لومړۍ نیمایي وروسته د ملکي وګړو د تلفاتو ترټولو لوړ شمېر دی.
د سیګار د شمېرو په اساس، د ملکي وګړو ددغو تلفاتو ۴۰ سلنه د نامالومو وګړو له خوا شوي دي. دغه شمېره د روان زېږدیز کال د دوهمو دریمو میاشتو د شمېرو په پرتله ۵۵ سلنه لوړه شوې ده. پر دې سربېره په دې تلفاتو کې طالبان ۳۸ سلنه، داعش درې سلنه او د حقاني ډله دوه سلنه لاس لري. **سیګار همدارنګه ویلي دي چې د پوځیانو له خوا اته سلنه تلفات ملکي وګړو ته اوښتي دي.** ددې تلفاتو له ډلې ۴۱ سلنه یې د چاودنو په پایله کې، ۲۹ سلنه په مخامخ نښتو کې، ۱۲ سلنه په غیر مستقیمو نښتو (د توغندیو توغولو) او پنځه سلنه د افغان پوځیانو د هوایي بریدونو په پایله کې ملکي وګړو ته اوښتي دي. د سیګار په وینا، د روان زېږدیز کال په وروستیو دریو میاشتو کې د طالبانو تر واک لاندې سیمو د افغان هوایي ځواکونو لخوا بریدونه څو برابره ډېر شوي دي.
د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا متحده ایالاتو د څار بنسټ په دې راپور کې ویلي دي چې د امریکا ځینو چارواکو لکه، د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو، د دفاع وزیر مایک سپر او د افغانستان د سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمی خلیلزاد په وروستیو میاشتو کې ویلي دي چې د طالبانو تاوتریخوالی، د هغې هوکړې په اساس چې په دوحه یې کړې وه، «ډېر زیات» شوی دی. د پنتاګون یو مهم څارونکی خبرداری ورکوي چې په ټول هېواد کې د طالبانو پراخ بریدونه د دوحې هوکړه لیک کمزوری کولای شي.
پنتاګون دغه مورد له سیګار سره شریک کړی دی. د سیګار یوه څارونکې د امریکا د دفاع وزارت پنتاګون ته همدارنګه ویلي دي چې له تاوتریخوالي د طالبانو موخه د د دولت ځورول او کمزوري کول دي، خو هڅه یې کړې چې دا تاوتریخوالی په هغه کچه چې تصور کېږي چې د سولې په هوکړه لیک کې راوړل شوی، ویې ساتي.
امنیتي بنسټونه هم وايي چې د امریکا او طالبانو ډلې ترمنځ له هوکړې وروسته، د طالبانو لخوا د تاوتریخوالي کچه لوړه شوې ده.
**د دفاع وزارت ویاند فواد امان، د لړم په شپاړسمه، د جمعې په ورځ ۸صبح ورځپاڼې ته وویل چې د سولې له هوکړې مخکې د تاوتریخوالي کچه ۱۰ ولایتونو پورې محدوده وه، خو دمګړی د طالبانو تاوتریخوالی او د امنیت ضد تحرکات له ۲۰ تر ۲۹ ولایتونو پورې رسېدلي دي.**
نوموړي وویل چې د تاوتریخوالي په دې بهیر کې ترټولو لوړ تلفات ملکي وګړو ته اوښتي دي. ښاغلي امان وویل چې امنیتي ځواکونه د دفاع په حالت کې دي او د دوی ټول تحرکات، فعالیتونه او عملیات د طالبانو د بریدونو په ځواب کې ترسره کېږي، ځکه د نوموړي په وینا هغوی مجبور دي چې د طالبانو د برید پرمهال له ځان او له خلکو دفاع او ساتنه وکړي.
له بل پلوه د طالبانو ډله وايي چې ددې ډلې له خوا د تاوتریخوالي کچه کمه شوې او د تاوتریخوالي د لوړوالي بحث «ناسم» دی. د دې ډلې ویاند ذبیح الله مجاهد ویلي دي چې که د تاوتریخوالي د لوړوالي بحث مطرح وي، باید دا شمېر له مخکې کلونو سره پرتله شي. نوموړي وویل چې د ښارونو په کچه د دوی پراخ عملیات نشته او د طالبانو تهاجمي بریدونه هم په غبرګونونو محدود شوي دي. نوموړي په خپلو خبرو کې وویل چې په لرې پرتو سیمو کې یې خپل بریدونه یوازې د پوستو د رامنځته کېدو او تر ولکې لاندې سیمو د نیولو د مخنیوي پورې محدودې کړې دي.
**ذبیح الله مجاهد همدارنګه د خپلو خبرو په دوام ویلي چې په تخار، ننګرهار، فاریاب او هلمند کې تاوتریخوالی د امنیتي ځواکونو د تحرکاتو د ډېرېدو په سبب ډېر شوی او د نوموړي په وینا، «له تعرض ځخه د دفاع حق» ددې ډلې لپاره خوندي دی.**
له دې وړاندې یوناما هم د روان کال د ۹ میاشتو په بهیر کې د طالبانو د تاوتریخوالي په اړه ځرګندونې کړې وې. د دې بنسټ په وینا لږ تر لږه دوه زره او ۱۱۷ تنه ملکي وګړي د ۲۰۲۰ کال له جنوري تر سپتمبره پورې وژل شوي او درې زره او ۸۲۲ تنه ټپیان شوي دي.
څه موده وړاندې امریکا ویلي ؤ چې له طالبانو سره یې ددې ډلې د عملیاتو د کموالي په اړه هوکړه کړې ده. په همدې حال کې د روان کال په اکتوبر میاشت کې د تاوتریخوالي په کچه کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی. **تازه پر کابل پوهنتون د برید په پایله کې ۲۲ تنه ووژل شول او ۲۷ نور ټپیان شول.** طالبانو ډلې په دې برید کې خپل لاس لرل رد کړل، خو حکومتي چارواکي دا ډله د کابل پوهنتون د برید مسووله ګڼي.

# دولت او طالبانو ته د نړیوالې ټولنې لس شرطونه

## ژمنه شوې مرستې تر راتلونکو دوو میاشتو پای ته رسېږي


◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ م. ظریف صمیم


د بهرنیو چارو سرپرست وزیر وایي چې تر راتلونکو دوو میاشتو پورې ټولې هغه نړیوالې مرستې چې له افغانستان سره یې ژمنه شوې وه پای ته رسېږي. د هغه په وینا، نړیوالې ټولنې له افغانستان سره د مرستو ددوام لپاره، دولت او طالبانو ته لس تازه شرطونه وړاندې کړي دي.

اتمر چې په ولسي جرگه کې یې وینا کوله، وویل: «افغانستان بیا رغونې لپاره د نړیوالې ټولنې د ټینگې ژمنې پخاطر اړینه ده چې د افغانستان لپاره د ژنیو کنفرانس جوړ شي!»

**حنیف اتمر زیاته کړه چې د کورونا ویروس خپرېدو، د افغانستان اقتصاد ته زیان رسولی او اټکل کېږي چې کابو پنځه سلنه اقتصادي ځوړتیا ولرو.**

هغه د کورونا ویروس خپرېدل د سیمې، نړۍ او افغانستان لپاره جدي گواښ بللی او وې ویل چې د بشري ټولنې روغتیا، اقتصاد او ثبات له گواښ سره مخامخ شوی دی.

حنیف اتمر ددې مطلب په بیانولو سره زیاته کړه: «دا خطر شته، چې نړیواله ټولنه له افغانستانه د ملاتړ په اړه خپله بې وسي وښیي!»

د هغه په وینا، نړیوالې ټولنې، افغان دولت او د هغه مقابل لوري (طالبانو) ته، چې له دولت سره په مذاکراتو بوخت دي؛ لس شرطونه وړاندې کړي دي.»

د بهرنیو چارو وزارت سرپرست زیاته کړه چې پر دغو لسو شرطونو به د دوشنبې ورځې په ناسته کې بحث او وبه ارزول شي. حنیف اتمر د نړیوالې ټولنې د لسو شرطونو په اړه جزیات نه دي ورکړي.

اتمر وایي چې تازه شرطونو ته په پام سره، دا خطر شته چې د افغانستان په اړه ملي، سیمه ییزه او نړیواله اجماع زیانمنه شي. هغه ټینگار وکړ چې د سیمه ییز او نړیوال ملاتړ جلبول مهم دي او افغانستان د پرمختگ لپاره بهرنیو مرستو ته اړتیا لري.

ټاکل شوې د ژنیو ناسته یوه اونۍ وروسته جوړه شي.

اخوا د مالیې سرپرست وزیر عبدالهادي ارغندیوال په مشرانو جرگه کې ووېل چې دا ناسته به یوه اونۍ وروسته د نړیوالې ټولنې لخوا د افغانستان د پراختیایي پروگرامونو د تمویلولو په موخه جوړه شي.

د مالیې سرپرست وزیر وایي چې په دغه ناسته کې بهاصلي بحث او تمرکز د ترانسپورت، انرژۍ، پوهنې، روغتیا او کرنې په اړه وي.

هغه هیله ښرگنده کړه چې د افغانستان له بیارغونې سره مرستندویه هېوادونه هر کال د خپلو پخوانیو ژمنو پربنسټ مرستې وکړي.

**ارغندیوال زیاته کړه چې افغانستان د ملي بودیجې له لارې د نړیوالو مرستو د ٦٥ سلنه مصرف غوښتونکی دی. په اوسني وخت کې ۴۹ سلنه نړیوالې مرستې د ملي بودیجې له لارې لگول کېږي.**





# د ملګروملتونو سازمان له افغانستان سره د نړیوالو مرستو د دوام غوښتنه وکړه

◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ م. ظریف صمیم

د ملګروملتونو سازمان وايي چې افغانان بشري مرستو ته اړتیا لري او نړیواله ټولنه باید دوی ته پاملرنه وکړي.

د کډوالو په چارو کې د ملګروملتونو لوړ کمېشنر فیلیپو ګراندي، د لړم په ۲۶مه، په بامیان ولایت کې ووېل چې دغه کمېشنري له افغانستان سره د بشري مرستو د دوام غوښتنه کوي.

ښاغلي ګراندي زیاته کړه چې راتلونکې اونۍ به د ژنیو په ناسته کې، له مرستندویه هېوادونو وغواړي چې د افغانستان له خلکو او دولت سره خپلو مرستو ته دوام ورکړي.

د هغه په وینا، د افغانستان ډېری برخې تراوسه جدي بشري مرستو ته اړتیا لري.

ګراندي زیاته کړه چې د کډوالو په چارو کې د ملګروملتو کمېشنري به هم له افغان کډوالو او راستنېدونکو سره خپلو مرستو ته دوام ورکړي.

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت له خوا د ورکړل شویو شمېرو له مخې، په اوسني وخت کې څه د پاسه پنځه میلیونه افغانان په ایران او پاکستان کې اوسېږي. کډوالو چارو وزارت د روان کال په لومړیو کې په هېواد کې د سولې له ټینګښت وروسته له ایران او پاکستانه د میلیونونو کډوالو د راستنېدو لپاره پنځه کلنه طرحه وړاندې کړې وه.

خو د کډوالو په چارو کې د ملګروملتو لوړې کمېشنرۍ په افغانستان کې د جګړې او ناامنۍ د زیاتوالي په اړه د اندېښنې په څرګندولو سره خبرداری ورکړ چې که په افغانستان کې د تاوتریخوالي کچه لوړه شي د کډوالو او کورنیو بې ځایه شویو شمېر به هم ورسره زیات شي.

## سره سندره

شور دی، شور دی، لور په لوري خور دی،
شور دی، شور دی
نوې زمانه کې د پښتون د ژوند انځور دی،
شور دی، شور دی
نوې زمانه ده، د پښتون شعور ویښ شوی دی
هسک را پاڅېدلی دی، ځان یې پېژندلی دی
ووځه د دوزخ امامه مخ دې ورته تور دی،
شور دی ، شور دی
غر که وي هم تنګ به شي،جنګ سره په جنګ به شي
دغه د تیارو بوتان، مات به شي او رنګ به شي
دومره ډېرو زړونو نه راتاو د قهر اور دی،
شور دی، شور دی
راغلل سمندر دي دا، وتي په محشر دي دا
کومې خواته سر دي دا؟ لر دي که د بر دي دا؟
غبر کړئ مومن خان ته چې ښامار دې ناست په کور دی،
شور دی، شور دی
غرونو کې برېښنا برېښنا، اخلي تري رڼا رڼا
نوې به کړي دا دونیا، ریږدي د اټوم باچا
دا د لوی تېر د ویښتابه د شعور زور دی
شور دی، شور دی

عبدالغفور لیوال

## سترګې په لنډیو کې

لنـدۍ، د پښـتو شـعر ځانګـړی او مختـص ډول دی. د لنډیـو ویونکـي معلـوم نه دي. لنـډۍ د مینې سـوزناکې چیغې دي، او د مینــې لـوی داسـتان په خوله لري.

دادي د تېـر پـه دوام، داخـل څـو هغـه لنـډۍ تاسـو تـه ډالۍ کـوو، چـې سـترګې پـه کې یـادې شـوي دي:

یار مې په شنو سترګو مېئن دی
زه به دا توري سترګې چېرته بدلومه

د چا به شنې سترګې خوښېږي
څوك به په تورو سترګو ځان قربانوینه

د تورو سترګو اشارې دي
زما تك سپین زړګی به تور په مینه شین

که زه خبر وای چې بېلتون دی
ما به د یار سترګو ته ډېر کتلي وونه

ما یې د ورور د سترګو ځار کړې
ده به د خور سترګو ته ډېر کتلي وینه

د سترګو تور د زړه مرحمه
د جانان غمه په خندا دې تېرومه

زما په زړه دې باڼه ښخ دي
سترګې په وار پورته کوه نامردې مرمه

زما په سترګو کې دې ګل شي
چې زه به یې ستا په مینه بل ته واړومه

زړه مې له سترګو ګیله من دی
چې دیدن نه کړي زه عبث غم تېرومه

سترګې، دا ستا سترګې زما دي
ما تا ته کله د یارۍ ویلي دینه

# د غني خان طنزي شعرونه

◆ پوهنمل محمود نظری

غني خان د خپل پېر یوازینی شاعر دی چې د طنز په وسله یې د پښتني ټولنې په نه ویل شوو ستونزو پر جرړې باندی بریدکړ ی او په پوره زړه ور تیا یې غولونکو ته گوته نیولې ده او ببله کومې ویرې یې هغوی غندلې او سپک سپاند کړي دي هغه له هرچا نه د پښتنې ټولنې په نیمگرتیاو او کمزورو ټکو ښه پوهیږي نو د سمون لپاره یې نیغ په نیغه د ستونزو ریښو ته ځان رسوی او بیا په خپلو سیاسي او ظرافتي شعرونو کې هغه راسپړ ي او لوڅوي

هغه وایي:

څه که خلق لیونی غنی ته وایی
ډیر ښه پیژنی خپل یار او د نور یار

دا هرومرو نه ده چې دطنز خندا او مالگه ډیره وي؛ خو دطنز اصلي موخه چې د ټولنې سمونه ده مهمه ده چې دا موخه بیا د غني خان په شعرونو کې تر بل هر شاعر ډیره ځلا لري هغه په طنز سره داسې مهمو شیانو ته گوته نیسي چې ولس یې تر پزې رسولی دی خو څوک څه ویلی نشي او هغه په ډیر جرت دا د ټولنې ریاکاران ولس ته ښیي د هغوی عیبونه او فسا دونه سپړي:


عجیبه دا سوداگردې
په لاس تیغ په سر قران
ښنه قبایي دامام ده
کلکې سترگې د شیطان
په ځیگر لکه چنگیزدی
چلولی لکه ماهان
په خوله د گلو باغ دی
په زړه سخا لکه ډیران
غرمبیده لکه زمری کړه
غریده لکه حیوان
پنجې ډوبې په سروونو
سر یې بره په اسمان
یا
یا په بام د حرم د مستی ترانه
یا په شپه د وصال د نفلونو بهانه
یا
اې د لیونیانو نیکه مار ښه که مُلا ښه دې
تن مې ډک له زهرو که زړه ډک مې د بلا ښه دې

داچې کله کله د ټولنې فضا دا اجازه نه ورکوي چې لیکوال شوخي وکړي او په پښتنې ټولنه کې هم داسی کسان شته چې د مسخرو زغم نه لري، خو غني خان په زړه ورتیا دا ټوله شا ته غورځوي او په میرانې ښه ویرې خپل د زړه خبرې بیانوي.

له هغه ځایه چې طنزونه نیغ په ټولنې او د هغې له پېښبوسره اړیکي لري نو د غني خان شعرونه هم په نیغه ټولنیزو ستونزو ته گوته نیسي. د هغه طنزونه ډیر سربېرن او لړ ژور دی دا ځکه که په ټولنه کې چې هر څه ترنیگلتیاوي، پېښې، او نظرونه ډیر وي هغومره طنز سربېرن کیږي:

عقل ترینه ړیری وخــــوړ
خیــــتې تری ایمان وخوړ
گـوره په وربشوکښــــې
خــره لأل دبدخشان وخوړ
گـوره یې نه خــــرځیږي
خوارلاله دغمه ځان وخوړ
قبــــض شــــو دآ صیب
ډیرې هنـــدوستان وخوړ

پاتې په ۱۹م مخ کې




# د عدم تشدد مبارز خان عبدالغفار خان په خپل کتاب کې لیکي:

«په ۱۹۲۶م کال کې بیت المقدس ته لاړم هلته به مې چې هره آباده ځمکه لیده نو خاوند به یې یهودي و، او چې شاړې ځمکې به مې لیدې خاوند به یې عرب و. د یهودانو په سیمو کې خوړنځایونه پاک او یوازې به مانښام په کې کسان لیدل کېدل، ځکه د ورځې به ټول یهودان په کار بوخت وو. خو دعربانو په سیمو کې به خوړنځایونه تمامه ورځ ډک و خلک به په کې ناست و، چلمونه به یې څکول او یو ډول لوبه به یې کوله. یوه ورځ مې له یوه عرب سره خبرې کولې او د شاړو ځمکو خبره مې ورياده کړه چې د یهودانو سیمې آبادې او ستاسو بیا شاړې پرتې دي. هغه وویل موږ دا شاړې ځمکې په یهودانو خرڅو چې آبادې کړي، هسې هم دا وروستی پېړۍ ده او مهدی ع را روان دی او دا ټول به بېرته زموږ شي.»

# د کابل د ژمي لومړنی باران؛ ښاریان کښتیو ته اړ شول



◆ **لیکوال: الهام ظهیر**
◆ **ژباړن: محمد ظریف صمیم**

هر کال، د یخنۍ په رارسېدو او موسمي ورښتونوپیلېدلو سره، کابل ښاریان پر واټونو، د اوبو د راټولېدو له امله له جدي ستونزو سره مخ کېږي. یو شمېر کابل ښاریان وايي چې پر لارو او واټونو د اوبو راټولېدل، په ښار کې د گڼې گوڼې لامل شوي او تگ راتگ یې، له ستونزو سره مخامخ کړي دي.

د کابل ښاریانو په وینا، دا ستونزې له کلونو کلونو شته؛ خو حکومت یې د اواري لپاره لازم اقدام نه دی کړی!

له بلې خوا کابل ښاروالي وايي‌چې دغه بنسټ، د یخنۍ موسم له رارسېدو مخکې، د ښار په کڅه د اوبو د راټولېدو د مخنیوي لپاره مقدماتي او لنډمهاله طرحې په پام کې نیولي او اوږدمهاله پروگرامونه یې هم برابر کړي دي.

ددغې اداري په وینا، ښاري کانالیزاسیون ریاست باید تر زمکې لاندې اوبو د بهېدو لپاره،د معیاري کانال جوړونې سیستم جوړ کړي او ښاریان هم د واټونو ترخنگ، ویالو له بندولو ډډه وکړي.

کابل ښاریان د یخنۍ پرمهال او د موسمي ورښتونو په پیلېدو، له جدي ستونزو سره مخامخ کېږي. په ټولنیزو رسنیو کې د کابل د وضعیت په اړه خپاره شوي تصویرونه، د ښاریانو له پراخو نیوکو سره مخامخ شوي دي.

د ټولنیزو شبکو د کاروونکو په وینا، حکومت د کلونو په تېرېدو تراوسه ونشول کولای د ژمي په موسم کې د کابل ښاریانو ستونزې حل او د اوبو د راټولېدو د مخنیوي لپاره مناسب کانالیزاسیون جوړ کړي.

د کابل یو اوسېدونکی فرهاد شریفي وايي چې د باران په اورېدو او په ښار کې د اوبو په راټولېدو، پوهنتون او کار ځای ته نښي تللی. د هغه په وینا په تېرو څو کلونو کې، د امنیتي دلایلو، طبیعي پېښو او نورو ستونزو له امله له کار او زده کړو څخه ته پاتې شوی او له مسوولو بنسټونو غواړي چې په دې برخه کې اغېزمن گامونه پورته کړي.

راشد سلیمان خیل چې په ښار کې پر کراچۍ شورنخود پلوري، وايي چې د باران په ورېدو او پر سړکونو، لارو او کوڅو کې د اوبو په راټولېدو، خپل کار ته دوام نه شي ورکولی او د یخنۍ په موسم کې آن خپلې کورنۍ ته د څو ډوډیو د وړلو وس هم نه لري. د د هغه په وینا «د باران اوبه کله کله د خلکو کورونو ته ورځي او د کور وسایلو ته زیان رسوي. خو حکومت تراوسه ددې ستونزې د اواري لپاره هېڅ نه دي کړي؛ نو غوښتنه کوو چې باید د ژمي په موسم کې د خلکو ستونزو ته پام وکړي.»

اخوا کابل ښاروالي وايي چې دغه بنسټ د یخنۍ موسم له رارسېدو مخکې، په ښار کې د اوبو د راټولېدو د مخنیوي لپاره مقدماتي او لنډمهاله طرحې برابرې کړې دي.

د کابل ښاروالۍ ویاندې سمیرا رسا د شنبې په ورځ ۸صبح ته وویل چې د ښاروالۍ د ساتلو او څارنې څانګې کارکوونکي د کابل بېلابېلو برخو لکه؛ لبجر، سلیم کاروان، دهمزنګ، دیارلسمې ناحیې او نورو هغو ناحیو ته چې د خلکو ستونزې ډېرې دي ورغلي او په ټانکرونو سره یې پر واټونو راټولې شوې اوبه لیرې کوي. نوموړې له خلکو غوارې چې په ویالو کې د کثافاتو له غورځولو ډډه وکړي، ځکه د هغې په وینا، دا کار له یوې خوا د ویالو د بندېدو او له بلې پلوه د ښار مرکز ته د کثافاتو د لېږدولو لامل کېږي.

مېرمن رسا زیاتوي چې اړتیا ده د ښار کانالیزاسیون ریاست د ښاروالۍ له خوا د سړکونو له کرېږ کولو سره په یو وخت، تر زمکې لاندې سیستم او د اوبو لارې هم په معیاري توګه جوړې کړي.

هغه وايي چې د ځینو کوڅو او ویالو کانکریټ کول ددې لامل شوي چې اوبه په زمکه کې جذب نه شي او پر سړکونو وبهېږي.

سمیرا رسا زیاتوي چې کابل ښاروالۍ له نورو اړوندو ادارو سره په همغږۍ ددې ستونزې د اواري لپاره اوږدمهاله طرحې په پام کې نیولې دي.

که څه هم د افغانستان د اوبو رسولو او کانالیزاسیون ریاست وايي چې ترزمکې لاندې اوبو او فاضلابو مدیریت ددغې اداري مسوولیت دی، خو د باران اوبو مدیریت د ښاروالۍ دنده ده. ددغه بنسټ د چارواکو په وینا، آن د کابل د ککړو اوبو د ماستر پلان په بشپړېدو سره هم د باران اوبو مدیریت د دغه بنسټ مسوولیت نه دی.

له دې مخکې، د افغانستان د اوبورسولو او کانالیزاسیون ریاست ویلي و چې د کابل ښار د ککړو اوبو د ماستر پلان په اړه کار روان دی چې دا چاره ترزمکې لاندې اوبو او باران د اوبو لپاره اغېزمنه کېدای شي.

ددغې اداري ویاند سید نوید سعیدي، د روانې میاشتې په لومړیو کې ۸صبح ته ویلي و چې د کابل ښار ماستر پلان به د څلور اعشاریه درې میلیون ډالرو په لګښت عملي شي چې یو میلیون یې د افغان حکومت او نورې د جرمني د پراختیایي بانک له خوا ورکول کېږي.

ښاغلي سعیدي زیاته کړې چې دا پروژه باید د ۲۰۱۲ کال د اپریل په ۲۱مه بشپړه شوې وای؛ خو د کورونا ویروس د خپرېدو له امله ددغې پروژې کار له ځنډ سره مخ شوی دی. د ماستر پلان پر عملي کېدو د کار په پیلولو سره، ټاکل شوې د ۲۰۲۱ کال د نومبر په وروستیو کې یې کار بشپړ شي. سعیدي جوته کړه چې د کابل د ککړو اوبو د ماستر پلان د کار په پای ته رسېدو، ددغه پلان له مخې تر زمکې لاندې او د باران اوبو مدیریت کېدای شي.

له دې مخکې هم کابل ښاریانو د یخنۍ موسم په راسېدو سره، پر واټونو د اوبو له بهیدو شکایت کړی و. د دوی په وینا، خام سړکونه او کمسوري واټونه، ددې لامل شوي چې د یخنۍ په موسم کې، د کابل ښاریانو ستونزې څو برابره شي. د وېلو ده چې په کابل ښار کې پنځه میلیونه او ۲۰۴ زره او ٦٦٧ تنه اوسېږي. د وګړو دا شمېر د روان کال د زمري میاشتې په نیمایي کې، د احصایې د ملي اداري له خوا اعلان شوی دی.



# نه ترامپ او نه بایدن؛
# یوازې ملي عدالت



◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ ژباړه: م. ع. پ

د امریکا متحده ایالاتو په ګډون د نړۍ په حکومتونو او چارواکو کې تغییر او بدلون، د افغانستان پر وضعیت کوم بنسټیز او اساسي اغېز نه لري. ځکه د افغانستان ستونزه داخلي ده او دغه ستونزه د کورنۍ حللاره غواړي. تر دې دمه ټولې بهرنۍ نسخې نه یوازې دا چې د افغانستان لپاره ناکامه وې؛ بلکې له ځان سره یې وینې تویېدل، ویجاړې او ورورژنې هم لرلې او لا یې هم لري!

د افغانستان د تېر څلوېښت کلن مدیریت پایلې او عواقب، د وراندیز شویو نسخو او مډلونو په سبب ؤ او کله ناکله هم تپل شوي ؤ، چې دا ټولو ته څرګنده ده. د امریکا متحده ایالتونو په تېرو ۱۹ کلونو کې په افغانستان کې د امنیت، دموکراسۍ او د اوسني نظام ساتنې لپاره له هېڅ ډول هڅو ډډه ونه کړه، که څه هم په رسمي ډول یې اعلان نه دی کړی، خو له طالبانو ډلې سره د هوکړه لیک لاسلیکول له ماتې منلو پرته بله معنی نه لري.

د یو شمېر افغانانو له نظره بالاخره د امریکا متحده ایالاتو

په افغانستان کې خپله ماتې منلې ده او له افغانستانه خپله تېښته او دا راز وتل خپل تر ټولو معقول سیاست ګڼي!
ظاهراً د کابل ټول بهرني هوکړه کوونکي او ملاتړي د امریکا په څېر دې پایلې ته رسېدلي دي چې له افغانستانه لاس واخلي او شاته شي او یا هم لېترلېره د افغانستان په اړه پر خپل سیاست له سره غور وکړي. د امریکا لوړ پوړو چارواکو په څرګند او بربنډ ډول، د افغانستان د ستونزې په تړاو نظریات څرګند کړي دي.
له دې ډلې د امریکا نوي ولسمشر، جوبایډن څو ځله ویلي دي چې ګواکې افغانستان به یو موټي نشي، افغانستان تل تیت پرک ؤ، په افغانستان کې اولس جوړونه ناکامه ده. د جوبایډن له نظره د افغانستان لپاره نوي سیستم ته اړتیا ده.
د ټولنیزو د جوړښتونو لومړنی فضیلت عدالت دی، څرنګه چې «سموالي او رښتینولي» د نظامونو لومړنی فضیلت دی. یو نظام او نظریه باید هغه وخت خوشې کړو، یا یې هم لرې وغورځوو او یا یې هم لږترلږه په اړه بیا غور وکړو، چې په عمل کې خپل سموالی او رښتینولي ثابته نه کړي او عدالت په هغه ډول چې لازم دی، د ټولو لپاره ونه وېشي.
د افغانستان اصلي ستونزه نظام او یا هم موجوده سیاسي جوړښت دی. دغه نظام او سیاسي موډل د ټولنیز عدالت په ټیکاو کې ناکام شوی. د ټولنیز عدالت د اصولو تر ټولو اساسي او مهمه موضوع د ټولنې بنسټیز جوړښت دی؛ یعنې په ټول کې د ټولنیز او قومي عدالت د ټیکاو او د ټولو خلکو د حقونو د رعایتولو په موخه او د ټولو هېوادوالو د همکارۍ په پار، د یوې طرحې جوړول او یا هم د ټولنیزو بنسټونو جوړول او ورته ښکلا ورکول دي.
په افغانستان کې د سیاسي جوړښت له بدلونه پرته، د عدالت ټینګښت، تلپاتې سولې او دموکراسۍ ته رسېدل ناشوني دي. د ټولنې بنسټیز جوړښت د هېوادوالو په ژوند ژور اغېز لري. ځکه د ټولنې همدغه بنسټیز جوړښت دی چې برابر اقتصادي فرصتونه او ټولنیزې ستونزې هېوادوالو ته ټاکي. کله چې بنسټونه، اساسي قانون او سیاسي نظام له خپل اړخه کارندوالی ونه ښيي، ټولنې ته نظم ور ونه بښي او ټولنې ته شتمني او قدرت په برابر ډول ونه وېشي، باید اصلاح شي او یا هم په بشپړ ډول له منځه ولاړ شي. کله چې نظامونه او بنسټونه عدالت ټینګ نشي کړی، دا په دې معنی ده چې خپله عادلانه نه دي. یوه ټولنه هغه وخت عادلانه ده چې اصلي بنسټونه او سیاسي جوړښت یې په ښه – عادلانه توګه طرح شي، یعنې په داسې بڼه چې ترټولو ډېره خوښي د ټولنې ټولو غړو ته چمتو کاندي.
له بده مرغه د افغانستان په ریاستي نظام کې نه یوازې دا مهم څیز میسر نه دی، بلکې د نورو حرمت ډېر ځله تر پښو لاندې شوی دی. په همدې اساس د امریکا د ولسمشر په توګه د جوبایډن او یا هم بل هر تن ټاکل کېدل، د افغانستان په تړاو د امریکا د بنسټیز سیاست له بدلون پرته، د افغانستان بنسټیزه ستونزه نشي حل کولی.
له پوځیاو سیاسي بنسټونو څخه موخه هغه قواعد دي چې د منصبونو او سمتونو له ستونزو او حقونو سره، واکونه او خوندیتوب مشخص او ځانګړی کوي. دا قواعد جوتوي چې د کومو کارونو ترسره کول دننه په ټولنه کې مجاز او کوم کارونه جرم دي او د هغو وختونو لپاره چې قانون تر پښو لاندې کېږي، دا قواعد مجازات او ټاکلې دفاعیې په پام کې نیسي….
ټول ټولنیز نظامونه تغییر نه منونکي او د بشر له کنټروله بهر نه دي. ټولنیز عدالت حکم کوي، که ټولنیز نظام د ټولو په ګټه نه وي او ونشي کړی ترټولو ډېره خوښي د ټولو خلکو لپاره چمتو کړي، باید له منځه ولاړ شي او له بدیل څخه یې د ټولنیز عدالت د ټینګښت لپاره کار واخیستل شي. هغه مهال چې نظام ددې وس ونلري چې عدالت ټینګ کړي، فساد له منځه یوسي او د خلکو د ځان او مال امنیت ټینګ کړي، نو بیا د ټولنې د خلکو هغه تاوتریخجنې کړنې چې د نظام له منځه وړلو لپاره یې ترسره کوي، په بې پروایۍ پېښېږي. ځکه مدني سرغړونې او یا هم څرګند سوله ییز یا وجداني خوځښتونه د دموکراتیکو نظامونو پر وړاندې ویل شوي دي، نه د فاسد او قومي حکومتونو او نظامونو پر وړاندې.
د افغانستان په تړاو د امریکا هېڅ یو پروګرام به تر هغه د تلپاتې سولې، رښتینې دموکراسۍ د ټینګښدلواو د نابرابرۍ د له منځه وړلو په برخو کې مرسته ونه کړي، چې د افغانستان په سیاسي نظام کې بدلون رانه شي. ځکه لوی ګوندونه چې د افغانستان لویه او اصلي اډانه ده، له کلونو راهیسې په دې هڅه کې دي چې د افغانستان مدیریت له ریاستي حالته راواړوي.
کله چې ترټولو لوی سیاسي ګوندونه او د افغانستان لوی قومونه په نظام باور ونه لري او ملاتړ تري ونه کړي، نو څنګه شوني ده چې سیاسي نظام دې د طالبانو او یا هم د افغانستان دښمنانو پر وړاندې بریالی شي او په بهرنۍ کچه دې هم وځلېږي؟ د افغانستان په اړه د امریکا د نوي ولسمشر ترټولو معقول سیاست، د افغانستان د سیاسي جوړښت او د مدیریت کړنلارې له بنسټیز بدلونه ملاتړ دی.
د افغانستان د حکومتونو بدلونونه او په اوسني واکمن سیستم کې د چارواکو بدلون، د افغانستان د ژورو ټپونو درملنه نه کوي او لوی قومي درزونه له منځه نه وړي.
ریاستي نظام په هغه افغانستان کې چې له بېلابېلو قومونوجوړ دی، ځواب ویونکی نه دی. ځکه دا نظام د ټول افغانستان لپاره د شتمنۍ، واک او په ټول کې د ټولنیز او قومي عدالت برابر وېش نه لري. له بده مرغه د ریاستي نظام مشر د هېواد د چارو واک لري او له والي نیولې تر آمره او د ولایتونو/ ولسوالیو د قومندانانو تر ټاکلو،د ولسمشر له صلاحیتونو دي...ددې وضعیتاغېز د هېواد د ولایتونو په بیارغونې او پرمختګ کې په څرګند ډول لیدل کېږي.
ریاستي نظام د ډېرو مخالفینو په لرلو سره، د خلکو د نه همکارۍ او نه ملاتړ له امله په ښه وضعیت کې نه دی. دغه نظام د نیمګړتیا له امله، له ځان سره د افغانستان ټول خلک د کندې غاړې ته برابر کړي دي.

# له اداري فساد سره د مبارزې کمېسیون جوړېدل؛

## د ژنیو په غونډه کې د مرستو د جلبولو لپاره د حکومت هڅه



◆ لیکوال: عبدالاحمد حسیني
◆ ژباړن: م. ظریف صمیم

له شپږ کلن ځنډ وروسته، حکومت د ژنیو له ناستې یوه اونۍ مخکې له اداري فساد سره د مبارزې کمېسیون جوړ او غړي يې وټاکل. چارواکي وايي چې دا کمېسیون باید له فساد سره د مبارزې په برخه کې د فعال بنسټ په توګه عمل وکړي او خلکو، پارلمان او دولت ته ځواب ویوونکی وي. خو د روښتیا د ځار بنسټ، ددغه کمېسیون د جوړولو موخه له فساد سره مبارزه نه، بلکې د ژنیو د غونډې لپاره د زمینې برابرول بولي.

که څه هم دا بنسټ جوتوي چې حکومت د ژنیو د تېرې ناستې ژمنې په سلیقه یي او دفتري توګه عملي کړې، خو د روښتیا د ځار بنسټ د چارواکیو په وینا، د خدماتو د وړاندې کولو او فساد د کمولو په برخه کې د حکومت کړنو مثبتې پایلې نه دي لرلې.

له دې سره په یو وخت، سیګار وايي چې له پراخ فساد سره د مبارزې په برخه کې د حکومت کړنې اغېزمنې نه دي او په دې اړه ډېری اصلاحات او مبارزه، د ناستو او پر کاغذ د لیکلو تر حده محدود شوي دي.

حکومت ټینګار کوي چې د ژنیو د تېرې غونډې ژمنې یې په عمل کې پلې کړې دي. **د چارواکیو په وینا، د ژنیو د تیرې ناستې څه د پاسه ٨٥ سلنه ژمنې عملي شوي او نړیواله ټولنه د افغان دولت له کړنو راضي ده.حکومت باوري دی چې په دغه ناسته کې به نړیواله ټولنه تر راتلونکو څلورو کلونو پورې له افغانستان سره خپل ملاتړ او مرستې وغځوي.**

د هېواد ولسمشر محمد اشرف غني، د لړم په ٢٢مه، له اداري فساد سره د مبارزې کمېسیون جوړ کړ او غړي یې وټاکل. هغه له اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې د دولت ژمنې ته په اشارې سره ووېل چې په دې اړه د دولت په مشرتابه او ملي کچه ګډ نظر موجود دی.

د هغه په وینا، له فساد سره د مبارزې لپاره، باید شته خنډونه لیرې او د پانګونې لپاره د ظرفیتونو د رامنځته کولو زمینه برابره

شي. لـه دې املـه ښـاغلي غنـي اعـلان کـړی چـې لـه اداري فسـاد سـره د مبـارزې کمېسـيون جـوړوي چـې د دربېـو نارينـه وو او دوو مېرمنـو پـه ګـډون پنځـه غـړي لـري.

**همايون حميد، مريمزرمتی،عبدالقيومنظامي،سيدمحمدهاشـمي او فـرخ لقا لـه اداري فساد سره د مبـارزې د کمېسـيون غـړي دي.** لـه بلـې خـوا ولسمشـر وېلـي چـې دا کمېسـيون بايـد لـه فسـاد سـره پـه مبـارزه کـې د يـوه فعال جوړښـت په توګه عمـل وکړي او خلکـو، پارلمـان او دولـت تـه د خپلـو کړنـو پـه اړه ځـواب ويوونکي وي.

خـو د روڼتيا د څـار بنسـټ وايېچـې دا کمېسـيون د ژنيـو پـه ناسـته کـې د مرسـتو د جلبولـو لپـاره د زمينـې برابرولـو په موخه جوړ شـوی دی. ددغـه بنسـټ د چارواکيـو پـه وينـا، حکومـت دا کمېسـيون د مرسـتندويه هېوادونـو لپـاره جـوړ کـړی چې له فسـاد سـره د مبارزې پـه برخـه کـې خپلې ژمنـې ورته جوتـې کـړي. د افغانسـتان د روڼتيا د څـار بنسـټ د عدالـت غوښـتنې او اړيکـو مسـوول ناصـر تيمـوري وايـي چـې دا کمېسـيون بايد شـپږ کالـه مخکـې جوړ شـوی وای، خو د طمعـو پرخـلاف اوس د ولسمشـر لخـوا جـوړ شـوی دی. ښـاغلي تيمـوري د لـړم پـه ۲۴مه نېټه ۸صبح ته وويل چې ددغه کمېسـيون پـه جوړولـو کې د مدني ټولنې بنسـټونو هـم رول درلود، خو حکومت ددې لپـاره چـې خپـل نـږدې کسـان وټاکـي لـه دغـه بهيـره يـې د مدنـي ټولنـې بنسـټونه ايسـتلي دي.

**هغه وويل: «د مدني ټولنې بنسـټونه يې له دې بهيره ايسـتلي. سياسـيونو تـه نـږدې او کـم تجربـه وګـړي يـې د کمېشـنرانو پـه توګـه ګمارلـي دي. دا له فسـاد سـره مبـارزه نه ده، بلکـې د ژنيو د غونډې لپاره زمينـه برابرول دي.»**

لـه بلـې خـوا، ښـاغلی تيمـوري وايـي چـې حکومـت پـه ژنيـو ناسـته کـې د ګـډون لپـاره ځينـې لاس تـه راوړنې هم لـري. د هغه پـه وينا، حکومـت مالوماتـو تـه د لاسرسـي د کمېسـيون او قوانينـو پـه برخـه کـې ښـه کارونـه کـړي دي، خـو دا ګامونـه د پلـي کېـدو پـه موخـه نـه، بلکـې لـه نړيوالـې ټولنـې سـره د ژمنـو د پوره کولـو له املـه پورته شـوي دي.

هغـه ټينـګار کـړی چـې خلـک او نړيواله ټولنه بايد ددغـو اقداماتو د عملـي کولـو پايلـې وغـواړي. د افغانسـتان د روڼتيا د څار بنسـټ، د عدالـت غوښـتنې او اړيکـو مسـوول همـداراز څرګنـده کړه: «سـره له دې چـې حکومـت د ژنيـو د تېرې ناسـتې ځينې ژمنې په سـليقه يي او دفتـري توګـه عملـي کړي، خـو دغـو اقداماتو د خدماتو د وړاندې کولـو او اداري فسـاد د کمولـو پـه برخـو کـې د پام وړ پايلـې نـه دي لرلي!»

لـه دې سـره سـره، ښـاغلي تيمـوري د ژنيـو د ۲۰۲۰ کال ناسـتې ته هيلـه منوونکـی نظـر لـري. هغـه ووېـل چـې نړيـوال مرسـتندويان له افغانانـو سـره د مرسـتو ژمنـه لـري او مرسـتې پـه بشردوسـتانه او د بېوزلـۍ د کمولـو پـه موخـه دوام مومـي.

د ناصـر تيمـوري پـه انـد، دا مرسـتې د افغـان دولـت لـه لارې نـه لګـول کېـږي، بلکـې نړيـوال او ملاتړي بنسـټونه په خپله دا مرسـتې مصرفـوي.

لـه دې مخکـې د افغانسـتان د بيارغونـې لپـاره د امريـکا ځانګـړي څارونکـي سـيګار هـم ويلـي و چـې لـه فسـاد سـره د مبارزې لپـاره د افغـان دولـت کړنـې پراخـې او اغېزمنـې نه دي. دغـې اداري د امريکا کانګـرس تـه د يـوه ليـک پـه لېږلـو، لـه اداري فسـاد سـره د افغان دولـت ژمنـې، د ناسـتو او د کاغـذ پرمـخ ليکلـو تـر بريـده بللـې دي. سـيګار پـه يـوه تويـت کـې ويلـي: يـوه مهمـه لاره چـې افغـان دولـت يـې لـه فسـاد سـره د مبـارزې او بنسـټيزو اصلاحاتـو پـه برخـه کـې مرسـتندويه هېوادونـو تـه ښـودلې شـي، د فاسـدو زورواکـو «لـه سـزا د خونديتـوب قضيـو تـه پاملرنـه» ده. دغـه بنسـټ زياتـه کـړې چـې افغان حکومت يـوازې هغه مهـال د پـام وړ اقداماتو تـه ليوالتيا لري چـې ملاتـړي بنسـټونه لـه هغـوی لـه فسـاد سـره د مبـارزې لپـاره د اصلاحاتـو غوښـتنه وکـړي.

لـه بلـې خـوا د ماليـې وزارت چارواکـي وايـي چـې حکومـت پـه پـوره چمتووالـي او لـه کومـې اندېښـنې پرتـه د ژنيـو په ناسـته کـې ګډون کـوي. د ماليـې وزارت وياند شـمروز خان مسـجدي ۸صبح ته وويل: «پـه ټولـو هغـو ناسـتو کـې چـې لـه بهرنيـو هېوادونـو سـره يـې لرلې، ملاتړو هېوادونو له افغانسـتان سـره د مرسـتې لپاره ليواليتا ښـودلې ده.» ښـاغلي مسـجدي زياتـه کـړې چـې د دغـه بنسـټ پـه بـاور، لـه افغانسـتان سـره د نومـوړو هېوادونـو د ژمنـې پـه برخـه کـې هېڅ ډول بدلـون نـه ليـدل کېږي.

هغـه وايـي چـې حکومـت پـه دې ناسـته کـې د ګـډون لپـاره تيـاری نيولـی او د ژنيـو د مخکينـۍ ناسـتې ژمنې يې کابو ۸۵ سـلنه عملي کـړې دي. هغـه پـه دې اړه د سـيګار رپـوټ چـې لـه اداري فسـاد سـره د مبـارزې پـه برخـه کـې د حکومـت ژمنـې د ناسـتو او پـر کاغذ د ليکلـو تـر حـده دي رد کـړ. ښـاغلی مسـجدي وايـي چـې حکومت د کاغـذ پرمـخ نـه، بلکـې پـه عمـل کـې دا ژمنـې پلـې کـړې دي. د ماليـې وزارت وياند جوتـه کـړه چـې نړيوالـه ټولنـه د حکومت کړنې تاييدوي.

حکومـت لـه دې مخکـې ويلـي چـې لـه اداري فسـاد سـره د مبارزې تـګلاره د پيـاوړي کېـدو پـه حـال کـې ده او د حکومـت ډېـر پـام بـه د لوړپـوړو چارواکـو لـه فسـاد سـره مبـارزه وي. **د حکومـت د هڅـو پـه دوام، څـه مـوده مخکـې د پوليسـو د عامـه نظـم پخوانـي قومانـدان او پـه اداري فسـاد تورن زمـری پيکان لـه دربيو کلونو وروسـته ونيـول شـو.** زمـری پيکان کابـو درې کاله مخکـې د اداري فسـاد لـه درنـو جرمونـو سـره د مبـارزې د عدلـي او قضايـي مرکز لـه خـوا، پـه کورنيـو چارو وزارت کـې لـه خپلو واکونو د ناوړه اسـتفادې او پـه يـوه قتـل کـې لـه خپـل زوی سـره د همـکارۍ پـه تـور، په اتـه نيم کالـه بنـد محکوم شـوی و.

د هغـه نيـول لـه يـو لـړ غبرګونونـو سـره مخامخ شـو.يو شـمېر په دې بـاور وو چـې د هغـه نيول د ژنيو له ناسـتې سـره تړاو لري. سـربېره پر دې، **د افغانسـتان د فوټبال فدراسـيون د مخکيني رييس کرام الديـن کريـم د نيولـو لپاره ناکامـه هڅه هم د ځينو بنسـټونو له خوا د ژنيـو په ناسـته پـورې اړوند بلل شـوې ده.**

د ويلـو ده چـې د افغانسـتان پـه اړه د «ژنيـو ۲۰۲۰» ناسـته د نومبر پـه ۲۳ او ۲۴مـه نېټـه جوړېږي. دغـه ناسـته د افغانسـتان، فنلنډ او ملګروملتـو سـازمان لـه خـوا پـه ګـډه برابرېږي. ټـاکل شـوې د ژنيـو پـه غونـډه کـې، د اويا هېوادونـو د بهرنيـو چـارو وزيـران او د ځينـو بنسـټونو اسـتازي تر ۲۰۲۴ کال پورې له افغانسـتان سـره د مرسـتو پـه اړه خپلـې ژمنـې نـوې کړي.














# ام البلاد لوبډلې د افغانستان د واليبال غوره لیګ اتلولي وګټله

◆ راپور: محمد عزيز پردېس

د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې د واليبال د غوره لیګ سیالۍ ترسره شوې، یادې سیالۍ د افغانستان ملي راډيو ټلويزيون په نوښت او د هېواد د واليبال فدراسيون په همکارۍ د روان کال د لړم په ۲۰مه نېټه په کابل کې پیل شوې چې د یوې اونۍ لپاره يې دوام وکړ.

په یادو سیالیو کې د هېواد مختلفو زونونو څخه په ترتیب نګین هریوا، سپین غر، بست، نښتر، بالاحصار او ام البلاد لوبډلو برخه لرله چې تېره چهارشنبه د لړم په ۲۸مه د بالاحصار او ام البلاد لوبډلو ترمنځ د یوې په زړه پورې سیالۍ څخه وروسته د ام البلاد لوبډلې د اتلولۍ کپ وګاټه.

ددې سیالیو د مسوولینو په وینا د یادو سیالیو موخه په هېواد کې د واليبال ورزش ته وده ورکول او د واليبال ملي لوبډلې ته د نویو لوبغاړو راجلبول ؤ.

یادې سیالۍ د افغانستان ملي راډيو ټلويزيون د سپورټ ټلويزيون په پردې په ژوندۍ بڼه خپرې شوې.

د ۱۱م مخ پاتې برخه

# د غنی خان طنزي شعرونه

ځارشـــم دلیډر کولمو
خیټه یې دښـــــکلولوده
چا مهار چا اوښ وخوړ
او ده واړه کاروان وخوړ
کوڼ ملا شهـــــید دې
په مـــزار یې ډیوه بله کړه

هغه دټولنې هر بدکاره سړی غندي ان د بدو ښځو ځخه هم مخ نه اړوی او وايي:

یو واده د خدائ رحمت دې
یو طاعون دې یو وبا ده
په کالو نه ښکلې کیږی
دا بدخویه دلربا ده
په ګیلو نه سترې کیږی
تل ویرونه دی غوغاده
فلانئ داسې فلانئ داسې
دا ئې کار دا ئې سودا ده
وائې غنی مئین په غوا
چې دروغ دی که رښتیاده

دغه بې پروا او بې قیده شاعر که څه هم یې ډیر ناویلي ویلي دي،خپل او د کړېدي ولس زړونه یی ښه یخ کړی دي، خو بیا هم خپل ځان مقید ګڼي او د زړه ځینې خبرې په زړه کې ساتي.

غنی وایی که دزړه خبرې وکړم
پښتانه به می په سر لرګی کړی مات

دغه د سر دار که دده په سر کې نه وای، ښایي چې دغه آزاد خیاله طنزویونکی شاعر د فکری آزادۍ حق نور هم ډیر ښه په ځای کړی وای او د جرت او جسارت ډیرې لوړې ځوکې ته ختلی وای.

چه خازې شنې مې په قبر وی ولاړې
که غلام مریم راځی توککړی پرې لاړې

هغه له تکفیره نه ویریږی ټول درواغ مقدسات رسوا کوي اود مذهبي ریاکاران ساتې باټې او درواغ بربنډ وي:

که تش په عقل وي په لیاقت دي
نه په نصیب وي نه په قسمت دي
شیطان به نن ؤ لوی لـــه جبریله
غني به هم لایق د ولایـــــت دي

نړی د خبرونو په اوریدو سر ښوروي او وایي:

د جهان خبــــــري ګوره
بیل به نکړي سپین له توره
اي غني ګیله تري مه کړه
شوه رنـــــده دنیا شبکوره

بیا سترګی له نړی ځخه د خپل هیواد خوا ته را ګرځوي هغه د وخت په کابینې ظاهراً سربېرن نظر اچوی مسکی کیږی بدلون ته یې په ملنډو ګوته نیسی او وایي:

چه پخواني وو څه وزیران
وي به ئې ډیری لوي مچان
ته راشه ګوره دا دخداي شان
چه نیم لغړ دي او نیم ګنجیان

هغه په زړه کې زړې خاطرې ګرځي لودیځي خواته ځي هلته یوی جنی ته ګوته نیسي او وایي:

دا یورپ دې جینکو کښې وفا نشته
بې وقوفه ته د مړونه مستې غواړې

هغه پښتون ته نصیحت کوي او بې پردې په طنز ورته وایي:

چـه پښتون تــه خدای پـه قارشې
لـــوی ملـک ئـې د ســرکــارکا
خــان او خــر دې سکـه ورونـه
مستی پـه جـر زنـا پـه جـار کا
پښتون هـغه وی چـه مــړ شې
خـپــل پــردې ورتـــه ازار کا
خــر تــری لـوی په جهان نه وې
چـــه پـــه ړیـــره اعـتـبـــار کا
زړه کــړه زهر خوله خــوږه کړه
خــره راشـــه ځـــان هوښـیار کا
یـــو د یـــار شــونـډې خوږي دې
یـــو مزه غــوښـــه د ښـــکار کا

دلته بیا یوې بلې پښتنې غمیزې ته ګوته نیسي او وایي:

خان راخیـــستي دي مـــــلا پسي څو بــــاړي
خپل کور سم کړه څه پر دي غمونه ژاړي
بل تــــــه وائي د حرص وبـــــاسه غــاښــونه
او پـخپـــله سوان په لاس تیروي داړي

بیا په طنز وایي:

ل وطن پخپله وران کړی بل بدنــــام کــــړي
ملایـان دي کړل قارغان خواري خراړي
چه پخپله په بیه قام خــــــــــــرڅـــــوي ته
بیا پــــه کـوم مخ په ملا کوي پیشاړي
چه پخپله دي مخ کال کښي نئ ویځـلي
بل ته مه وایــــه زږګیــــه چـــه پـواړي

هغه دژوند په هلکه وایي:

چې په ژوند کې سخته نه وي
لکه بې مالګې طعام
چې په خوله کې خندا نه وي
لکه ډك د خاورو جام
ژوند که تل فرنې ځېل وي
دا خو سپی هم شي ځټلای
که تش نسل زیاتول وي
دا غویي هم شي کولای
ژوند نه خېټه نه ماڼی دی
نه ډېرې د سرو لالونو
نه یاران، نه معشوقې دننه باغونه د ګلونو

د غني خان له نظره ژوند څه دی، هغه داسې ځواب ورکوی:

ژوند خو تله دی یو په مخه
غورځېدل او پاځېدل دي
ټکی سوز او ټکی ساز دی
څه خندل دي، څه ژړل دي

# په میرانشاه کې

## د پښتون ژغورنې غورځنګ ستره غونډه

◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ راپور: محمد عزیز پردېس

د پښتون ژغورنې غورځنګ د روان کال د لړم په ۲۶مه د شمالي وزیرستان په میرانشاه کې ستره غونډه رابللې وه. په دې غونډه کې د لر و بر پښتنو د حقونو د غوښتنې، د پښتنو د هدفي وژنو، د ورکو شویو پښتنو په تړاو او په ټوله کې د پښتنو په سیمو کې د امن او سولې ټینګښت شعارونه، د ویناوالو او ګډونوالو لخوا ورکول کېدل. له کرونایي وضعیت څخه وروسته دا د یاد غورځنګ تر ټولو لویه غونډه ده چې د لسهاوو زرو تنو په ګډون جوړېږي.

د معلوماتو له مخې په دغه غونډه کې د پښتون ژغورنې غورځنګ د نورو غړو ترڅنګ د پښتنو وتلي سیاستوال افراسیاب خټک، د پاکستان د سنا غړی عثمان کاکړ او فرحت الله بابر هم ګډون کړی ؤ.

ددې غورځنګ مشر منظور پښتین، پخپلو خبرو کې د پاکستان له حکومته وغوښتل چې په سیمه کې دې د ناامنیو او هدفي وژنو مخه ونیسي. نوموړي په لر و بر کې د پښتنو د یووالي د ټینګار ترڅنګ وویل چې غورځنګ لا هم تاند دی او خپله مبارزه به روانه ساتي.

ددغه غورځنګ بل مخکښ غړي محسن داوړ په اسلام آباد کې د حزب اسلامي د مشر ګلبدین حکمتیار وروستیو څرګندونو ته په ګوتڅنډنې سره وویل چې «د پښتون ژغورنې غورځنګ به په افغانستان کې د هرې نوې جګړې مخه نیسي!».

ددې غونډې بل ویناوال، د خیبر پښتونخوا وتلی سیاستوال افراسیاب خټک ؤ. نوموړي په خپلو خبرو کې وویل: «نه لر وطن کې د چا بدماشي منو او نه په بر وطن کې».

د غونډې نورو ویناوالو هم په خپلو ویناوو کې د پښتنو پر یو موټي کېدو ټینګار درلود او په سیمه او په ځانګړي ډول افغانستان کې د تلپاتې سولې غوښتونکي شول.

د ویلو ده چې په دغه غونډه کې له افغانستان څخه د کندهار، هلمند او ننګرهار په ګډون، د ځینو نورو سیمو خلک هم ورغلي ؤ او په غونډې کې یې د ګډون ترڅنګ یې، د پښتون ژغورنې غورځنګ له مشرانو سره کتلي دي.

له بلې خوا، دا غونډه په لر و بر او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې، د پښتنو د حقونو د فعالینو له پراخ هرکلي سره مخ شوې ده. د احمد شاه ساحل په نوم یوه فعال په خپله فېسبوک پاڼه لیکلي:

«دا پښتون قام دی؛ نور نه ټیټېږي، نه چوپېږي او نه ډارېږي! نن د وزیرستان په مېرانشا کې د پښتون غورځنګ په ملاتړ راټول شوي دي. هلته د واکمن پنجاب پر وړاندې د سپېڅلي بغاوت ناره پورته کوي او په لکونو پښتانه ورغلي دي.»

وتلی لیکوال، شاعر او په ایران کې افغان سفیر عبدالغفور لېوال بیا ددې غونډې په اړه داسې لیکلي دي: «**دا پاڅون به ختیځ هغسې بدل کړي لکه لوېدیځ چې د فرانسې ستر انقلاب بدل کړ!**»

د یادونې وړ ده چې په پاکستاني رسنیو کې د پښتون ژغورنې غورځنګ غونډې ډېری وخت نه منعکسېږي، نو په همدې سبب دغه غورځنګ خپلې غونډې د خواله یا ټولنیزو رسنیو له لارې خپروي.

پښتون ژغورنې غورځنګ وایي چې د میرانشاه په غونډه کې له ۳۰ زرو ډېرو کسانو ګډون درلود.

دا غورځنګ په پاکستان کې د پښتنو د حقونو دفاع کوي او د پاکستان پر پوځ نیوکې کوي چې د پښتنو په سیمو کې د ترهګرۍ او ترهګرو ملاتړ کوي. ددې غورځنګ مشران او غړي د پاکستان له حکومته د زرګونو لادرکه پښتنو د آزادولو غوښتنه هم لري.

د پښتون ژغورنې غورځنګ د جوړېدو اساسي علت، پښتون قوم ته د سر، آزادۍ او مال خوندیتوب دي.



# عکسونه خبرې لري

**پاکستان صدراعظم ووېل سوله راولي!**
**افغان دولت د قانونمحوره سولې لپاره ولسي رایه را جوړه کړي!**
**طالبانو د «بهرني اشغال» ختمولو سپېڅلي نامه لاندې شل کلنه جګړه، د دوحې په تړون سره ختمه کړه! نو ددې نه ختمېدونکې اوږدې جګړې او شخړې سرچینه چېرې ده؟**
**د پښتون تحفظ غورځنګ دېرش زره کسیزې غونډې بیا دا نعره پورته کړه، چې ددې جګړو پلان او لارښوونه له (GHQ) کېږي.**









عکسونه له ټولنیزو شبکو کاپي شوي دي.

Hasht e Subh Magazine
Yesterday's Narrative Today's Mirror Tomorrow's Hope



«کوچنی اوسه؛ خو مینه گر؛ ځکه چې مینه ستا د لویولو په راز پوهېږي.» نلسن ماندیلا
یو ښاپسته، روښانه او روحاني وطن به هله ولرو، چې ماشومانو ته له جنک، شخړو، او فشار خلاص،
له مینې-لورینې ډک زده‌کړو محیط جوړ کړو!
او انځور په اړه د تسکین دا بیت ډالۍ دی: «له دغه زلمیتوبه ماشومتوب را ته ډېر ښه دی
په غېږ کې به نیولمه هرچا له ډېرې مینې»

عکسونه له ټولنیزو شبکو کاپي شوي دي.